مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۲/۰۹/۰۵

له ولړې سره سیاسي لوبې

بشري تاریخ د ګڼو دیکتاتوریو دا چلند په حافظه کې لري، چې خپل ولس یې وړی، نالوستی، بېخبره او محروم ساته، چې خپلو سیاسي - بشري حقونو ته یې پام نه شي او تابع پاتې شي.

موږ هم په خپلو عامیانه روایاتو کې څه کیسه غوندې لرو، چې: ګواکې کوم پاچا خپل زوی د وږیو چرګانو کوډلې ته بوولی و او بیا یې لږه دانه په لاس کې ورکړې وه، او هغه لیدل، چې وږي چرګان یې څنګه تر قدمونو لاندې توغړیږي او دانه غواړي... بیا یې ورته ویلي وو:

بچی! خلک چې وږي ول او ستا په لاس کې ډوډۍ وه، نو دغسې به دې تابع وي، خو که ماړه شول، نو یاغي کیږي، حقونه غواړي، په واک کې خپله ونډه غواړي، ښه ژوند غواړي او... د انسانانو غوښتنې پای نه لري.

دا په یاد ولره، چې تر ټولو ښه رعیت وږی رعیت دی!
خو،
تاریخ د وږیو ولسونو خونړي پاڅونونه هم په حافظه کې لري او په ولږه راخوځېدلې پرګنې هم، چې خورا ژور بدلونونه یې رامنځ ته کړي دي.

د رومي مریيانو له سپارتاکوسي پاڅونه رانیولې په چک هېواد کې د جان هوس Jan Hus (ینهوس) د پلوي بزګري پاڅونونو او بیا د فرانسې تر ستر انقلاب پورې، چې د بشریت برخلیک یې پر بل مخ واړاوه.

تاریخ دا هم نه هېروي، چې ولږې راپاڅولي پاڅونونه بیا یوازې په ډوډۍ قناعت نه کوي، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه هم راباسي او د کلیسا اقتدار ته هم د پای ټکی ږدي.
کشیشان د خپلو ګیوتینونو په تېغونو ریبي او له هغو بدنونو څخه ټولې زبېښلې وینې راباسي، چې سلګونه کلونه یې د اېډیولوژیو په نامه د خلکو له وږیو رګونو څخه څښلې دي.

د افغانانو ولږه که د دې لپاره وي، چې ښوونځي، عصري علوم، بشري حقونه، ولسواکي او یو عصري انساني ژوند ترې هېر کړای شي او بېرته یې ډېر پېر ته ورستانه کړي...
نو دا سرچپه پایله هم درلودلای شي.

د وږیو پرګنو قهرېدلې څپې هغه سېلاو ته ورته دي، چې هرڅه وړي.
ان د خلکو له سرونو جوړ شوي لوړ، لوړ منارونه هم.
زه یې نه وایم، د تاریخ ټولنپوهنیزه لوستنه یې وایي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ